**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د بنګله دېش خلک د شريعت تطبيق غواړي، نه د دېموکراسۍ**

**سیکولران هڅه کوي چې د دېموکراسۍ بايللی نظام په غلطو ټولپوښتنو وژغوري!**

**(ژباړه)**



**خبر:**

په تېرو اونيو کې د بنګله‌دېش چاپ يوې معتبرې خپرونې **(The Daily Star)** د ۲۰۱۷م د سپتمبر پر ۲۷مه په واشنګټن کې د نړيوالې څېړنيزې «**Resolve**» شبکې «په بنګله‌دېش کې شريعت او دېموکراسي د ټولپوښتنې په اړانه کې» تر عنوان لاندې راپور خپور کړ. دغه راپور په بنګله‌دېش کې د مفکرينو او سياسيونو د بحث پر موضوع بدل شو. دا راپور د ۲۰۱۷م کال په اپرېل کې په بنګله‌دېش کې له ۴۰۶۷ کورنيو سره د مخامخ مرکې په پايله کې جوړ شو، چې د دغې ټولپوښتنې د پايلو شننه دا ټکی څرګندوي، چې د بنګله دېش خلک په ښکاره د ښې حکومتولۍ په توګه د دېموکراسۍ او اسلامي شريعت د ارزښتونو ملاتړ کوي.

**تبصره**

د راپور له مخې، د دغې ټولپوښتنې ۸۰سلنه ګډونوالو باور درلود، چې اسلامي شريعت لومړني خدمتونه، فردي امنيت او عدالت تامينوي او همدارنګه په دې اړانه کې به په دغه هېواد کې فساد کم شي. دا څېړنې په دقيقه توګه تېره ټولپوښتنه چې په ورته موضوع کې په (۲۰۱۱-۲۰۱۲م) کلونو کې د امريکا د څېړنيزو انستيتيوتونو يوه څېړنيز مرکز تر سره کړې وه، تاييدوي چې د بنګله‌دېش ۸۲سلنه مسلمانانو پکې د اسلامي شريعت ملاتړ کړی و.

سره له دې چې څېړونکو په دغه راپور کې يادونه کړې، چې د دغې ټولپوښتنې ګډونوال په دې باور وو، چې اسلامي او دېموکراسي ارزښتونه سره يو کړي، خو دا له وهم او خيال پرته بل څه نه دي. څېړونکو د فرېب په بڼه دا ټکی په راپور کې ځای کړی، چې ګواکې د بنګله‌دېش خلک د دېموکراسۍ او اسلامي شريعت ملاتړ کوي، چې دا د ډېرو لپاره بې معنی دی. د ټولپوښتنې د طريقې او همدارنګه د دغې څېړنې د موخې په اړه، چې دا ډول اغوا کوونکی راپور يې چمتو کړی و، زياتې پوښتنې زېږوي.

دا ښکاره ده چې دموکراسي او اسلامي شريعت خپل ځانګړي اساسات لري. د بېلګې په توګه: په دېموکراسۍ کې حاکميت د خلکو دی او د انسان فکر د قانون جوړونې يوازينی مصدر دی؛ خو په شريعت کې حاکميت د الله سبحانه وتعالی دی او يوازې هغه سبحانه تعالی د قانون جوړونکی دی، تر دې چې چارې په اسلامي شريعت پورې اړه لري او د انسان محدود فکر قانون نه شي جوړولی.

د دېموکراسۍ په بشري نظام کې داسې عیبونه په میراث پاتي دي، چې په حقیقت کې یې ډېرى کسان غولولي او یوازې د ټولنې نخبه کسانو ته پاملرنه کوي. د دېموکراسۍ دغه ظالم نظام د سیکولریزم یوه څانګه ده، چې د خلافت له سقوط وروسته یې مسلمانان له پښو غورځولي؛ خو په ورستیو پېښو کې د دېموکراسۍ فطري نیمګړتیاوې او دوه مخیتوب افشاء شو، چې نه یوازې مسلمانان، بلکې په ټوله نړۍ کې حتی غیر مسلمانان هم د اسلامي شریعت غوښتونکي شول او خلافت یې د یوازیني حکومت په توګه، چې کولی شي عدالت پلی او فساد کنټرول کړي، وپېژنده او په لټه کې یې دي.

بېچاره سیکولران خپلې وروستۍ هڅې کوي، چې خپل فاسد نظام وساتي او د عامه باور د جلبولو لپاره بېلابېلې غولوونکې شمېرنې کوي، چې دغه راپور یې یوه برخه ده. سیکولرې رسنۍ او ځینې مفکرین یې تل هڅه کوي تر څو داسې وښيي، چې په بنګله‌دېش کې دموکراتیک ارزښتونه ژورې رېښې لري؛ خو د موضوع واقعیت بشپړ برعکس دی. مسلمانان تل پر اسلامي شریعت باور لري، هغه نه یوازې چې د دوی عقیده ده؛ بلکې عدالت، امنیت او خوشحالي یې تامینولی شي، چې تاریخ پرې شاهد دی.

په حقیت کې مسلمان هېڅکله د دېموکراسۍ هغه ترخه حل لاره نه هضموي، چې د خوږو فصیحو او بلیغو بحثونو په اډانه کې یې وړاندې کوي. که رېښتینې ټولپوښتنه وشي او د بنګله‌دېش خلکو ته فرصت ورکړل شي، چې په اسلامي شریعت او دېموکراسۍ کې یو وټاکي، هغه مهال به سیکولران تر دې هم نهیلي کړي.

**لیکوال: محمد کمال**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**۱۴۳۹هـ.ق، د محرم ۱۸مه**

**۲۰۱۷م، د اکتوبر ۸مه**